دافغانستان اسلامی دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د تألیف اوترجمې ریاست

د ښوونکی لارښود

د سواد د زده کړې د کورسونو د پاره

(۱)

لیک او اقتباس : عبدالوکیل «حنیفی»

۱۳۷۲ کال

د ۱۳۷۲کال لمړی چاپ
دا کتاب وړیا ویشل کیږی پلورل او پیرودل ئی منع دی
دتعلیمی مرکز د نصاب مدیریت
د چاپ شمیر (۵۰۰۰)
د استهلاك دوره یو کال
د چاپ حق محفوظ دی

دافغانستان اسلامی دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د تألیف اوترجمې ریاست

د ښوونکی لارښود

د سواد د زده کړی د کورسونو د پاره

(۱)



لیك او اقتباس : عبدالوکیل «حنیفی»

۱۳۷۲ کال

بسم الله الرحمن الرحيم

د کلمی تلفظ .

الفبا او رسمونه چه د کتاب لومړی لوست دی ، بایدیواځی دسریزی په توګه تدریس شی ، د زیات وخت له تیرونی څخه دی ډډه وشی، ځکه چه یواځی دتورو ارتباط له رسمونه سره دی .

د لوست په بهیر کی دی پیاوړی ښوونکی لاندی ټکی په نظر کی ونیسی :

۱- اوریدل :

ښوونکی دی هر توری او کلمه څو څو ځلی په لوړ غږ ولولی او زده کوونکی دی هم په لوړ غږ ولولی ترڅو زده کوونکی کلمی او توری له غږ سره آشنا شی .

۲- لوستل :

زده کوونکی دی حرف او کلمه لومړی په ډله ایزه توګه او بیا دی په ځانګړی توګه په لوړ غږ ولولی ، ښوونکی دی د هر زده کوونکی تلفظ ته پام وکړی او دهغه نیګمړتیاوی دی اصلاح کړی .

۲- لیکل :

ښوونکی دی د توری او کلمی د لیکلو لاری چاری په صحیح توګه زده کوونکو ته وښئی. له هغو پامفلتونو څخه چه د عنعنوی، مذهبی ورځو ، صحی تعلیماتو او خوړو په برخه کی لیکل شوی دی د درسی کتاب ترڅنګ د لوستلو په وخت کی ځینی ګټه واخلی ترڅو له یوی خوا ژبه تقویه او له بلی خوا د معلوماتی زیرمی سبب و ګرځی .

ښوونکی دی هره ورځ له زده کوونکو سره تر روغبړ وروسته د درسی ساعت پیل اعلان او د تختی پر مخ دی په تورو او هم به عدد ولیکی.د مثال په توګه (۸) یا اته بجی درس پیل کیږی، نن دهفتی یا شنبی ورځ ده، کال ۱۳۷۲ او دوری دمیاشتی (۲) نیټه ده ، تفریح په ۲۰ : ۹ (نه بجی او دیرش دقیقو) پیل او د (۱۵) پنځلسو دقیقو له پاره دوام لری.

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

دښوونکی له لارښود څخه د ګټې اخستلو لار :

دا لارښود ددی له پاره تهیه شوی دی ترڅوله تاسو سره د ښه تدریس په برخه کی مرسته وکړی .

هر درسی پلان دری برخی لری :

۱- د لوست نه مخکی .

۲- د لوست په بهیرکی .

۳- تر لوست وروسته .

دتدریس په هره برخه کی داسی پیشنهادات راغلی دی چه د هغو په وسیله زده کوونکو ته لوست په زړه پوری اود کړندی زده کړی ، لیکلو او لوستلو سبب ګرځی .

مخکی لدی چه زده کوونکی لومړی لوست دکتاب له مخی و لولی تل باید له " لوست نه مخکنی " فعالیتونه پیل شی .

دا برخه ډیره ارزښتناکه ده، ځکه دا ددی خبری بنست ږدی چی زده کوونکی څه باید زده کړی

د لوست په بهیرکی فعالیتونه داسی پیشنهادات ارائه کوی چه له زده کوونکو سره دکلمو او جملو په لوستلو کی مرسته کوی .

تر لوست وروسته فعالیتونه یو لړ پوښتنی تشکیلوی چی تاسو ئی له زده کوونکو څخه د ډاډ لاس ته راوړلو له پاره پوښتی ، پدی معنی چه ایا زده کوونکی چی څه شی لوستلی پری پوهیږی او کنه ؟

د پاملرنی وړ ده چه زده کوونکی باید مطلب او اصلی مفهوم تر لاسه کړی نه یواځی

ښوونکی دی زده کوونکی د دوی دسویی په اندول په څو ډلو بیل او د هماغی ورځی له لوست څخه دی څو نوی کلمی انتخاب او له هری ډلی څخه دی غوښتنه وکړی چه یوه یوه کلمه ولولی او بیائی ولیکی او جملی دی ورځنی جوړی کړی، ترڅو چه د سواد د زده کړی د کورسونو په پای کی یو زده کوونکی و کولای شی خپل او د خپل اولاد نومونه په ښه توګه ولیکلای شی او هم دا توان ولری چه خپلی کورنی او یا خپل ملګری ته په څولنډو کرښو کی یو لیك ولیکی او دا ددی کورس هدف دی چه زده کوونکی برسیره پردی چی لیکونکی او لوستونکی شی د لورو زده کړو تر لاسه کولو ته هم تشویق شی.

ښوونکی دی خپلی ټولی ویناګانی په توره تخته ولیکی ترڅو چه زده کوونکی د اعدادو شمیر ، وخت ، ساعت، نیټه ، ورځ ، میاشت او کال زده کړی .

وروسته تر دی چی ښوونکی لوستل ، تلفظ کول او لیکل (الفباتر پایه) پوری خپلو زده کوونکو ته ور زده کړل،هغه کلمی چه توری ئی د مشق او تمرین لپاره لیکل شوی دی، مشق او تمرین کړی ترڅو زده کوونکی و کولای شی له تورو څخه کلمی جوړی کړی، ښوونکی دی متوجه اوسی چه آیا زده کوونکی توری پیژنی او لیکلی شی که نه ، (یعنی توری سره یو ځای او نوی کلمه ځینی جوړولای شی) که چیری زده کوونکی کلمه لوستلی شی خو لیکلی ئی نه شوای نو پیاوړی ښوونکی دی له دوی سره مرسته و کړی او د الفبا د تکرار لپاره دی څو نورو ساعتونو ته تخصیص ورکړی .

د محترم ښوونکی د پاملرنی وړده چه د کتاب په متن کی د (خ) تر توری وروسته یوه لنډه کیسه لیکل شوی ده او هدف ئی دادی چه ایا زده کوونکی کلمی لوستلی شی او پوښتنو ته ځوابونه ورکولی شی که نه ؟ که چیری نتیجه ښه او دقناعت وړ نه وه، له زده کوونکو سره دی له (الف څخه تر(خ)) پوری کلمی او متنونه تکرار کړی.

درسی مواد :

ښوونکی دی پر کتاب سربیره ، له توری تختی، تباشیر، چارت فلش کارت او نورو

محیطی موادو څخه استفاده وکړی د مثال په توګه :

که چیری چارت او فلش کارت ونلری پر ځمکه دی رسم وباسی او یادی له وړو لرګیو ، شګو، دلندو اوړو ، خټی او یاد حبوباتو له دانو څخه کلمی ، اعداد او یاد ساعت رسم جوړ کړی. ترممکنه حده پوری دی ښوونکی یوه کوچنی کتابچه چه (١٦) مخونه ولری جوړه او له الف څخه تر (ی) پوری دی توری او یوه یوه جمله هم پکی ولیکی ، زده کوونکو ته دی ورکړی ترڅو هره ورځ زده کوونکی د تکرار په خاطر په کور کی ورڅخه استفاده وکړی . که چیری زده کوونکی له ګندلو سره مینه ولری، توری او اعداد دی و ګندل شی ترڅو چه لیکل او شمیرل زده او هم له لاسی کارونو سره مینه پیدا کړی .

د هر پامفلت په پای کی دی یوه انتخابی پوښتنه تهیه شی چه د (الف ، ب ، ج ، د) څلور ځوابونو ولری. پدی څلورو ځوابونو کی یو صحیح دی. زده کوونکی تر لوستلو وروسته د صحیح ځواب ترحرف دایره راکاږی .

یواځی د کولرا دناروغی تر سریزی لاندی د څلورو ځوابونونه سوالونه ندی راغلی. بلکه د خانه خالی سوالونه لیکل شوی دی چه زده کوونکی باید هغه کلمی چه د ځوابونو په ستون کی لیکل شوی دی په خالی ځایونو کی ولیکی .

یادونه :

محترم ښوونکی ته دپوښتنی درست ځواب د لاربښود په کلی کی ورکړل شوی دی او د هر عنوان درست ځواب په لاندی ډول دی :

داړوند پامفلیت د صحیح ځوابونو کلی

عناوین	ځواب	عناوین	ځواب
۱- مولود شریف	(ب)	۱۶- مکروب	(ب)
۲- برات	(ج)	۱۷ـ ملاریا	(ج)
۳- عاشورا	(د)	۱۸- کولرا	۱- ساری
			۲- په روانو اوبو
			۳- کلینیك
٤- اختر	(ج)	۱۹- محرقه	(ج)
٥- صداقت	(د)	۲۰- اسهال	(ب)
٦ـ ستر	(د)	۲۱- غذا او تغذیه	(ب)
۷- لوستل او لیکل	(ب)	۲۲- میوی او سبزی	(د)
۸- نوروز	(د)	۲۳- غوښه	(ب)
۹- کار	(الف)	۲٤- د غذا اخستل	(ب)
۱۰- دبازار ورځ	(ب)		
۱۱- امیدواره میرمن	(ب)		
۱۲- دنوی ماشوم حفظ الصحه	(ب)		
۱۳- دنوی ماشوم واکسین	(ج)		
۱٤- اوبه	(الف)		
۱٥- سخته تبه	(ج)		

لومړی فصل

(د لومړی مخ څخه تر اووم مخ پورې)

هدف

۱- په رسم کې د الفبا د تورو پیژندل .

۲- زده کوونکي باید رسمونو ته وګوري،د هغوی نمونه دی واخلي ترڅو توري او کلمه په سپه توګه ولوستلی شي.

۳- زده کوونکي باید پوه شي چې کلمه له تورو څخه جوړیږي او یوه کلمه یو شي ښکني .

درسي فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په بهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکي دی له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړي چه قرآنکریم لوستلی شي اوکه یوالفي نی په یادلری، همدارنګه ښوونکي دی خپل ځان پدی ریوهوی چه د څوتنو زده کوونکو الفبایاده ده. ۲- د کتاب د ۱-۲-۳-٤-٥-٦-۷ مخ رسمونه دی زده کوونکو ته وښئی ترڅو زده کوونکي وروسته د رسمونو له لیدلو څخه په شفاهي توګه هغه معرفي کړي .	لومړنی لوست شفاهي دی یوالفي الفبا د رسمونو په ذریعه ښودل شوی ده . له زده کوونکو نه دی پوښتنه وشي چې څه ئي په یاد دی، شفاهي نی دی ووانی .	ښوونکي دی زده کوونکو ته دکورنی وظیفی په توګه ووانی چې هر زده کوونکي باید د دوو درسي کلمو په هکله چې لومړی حرف ئی الف یا (ب) وی فکر وکړی او بله ورځ ئی باید ښوونکي صاحب ته ووانی .

دوهم فصل

(د ۸ مخ څخه تر ۱۵ مخ پورې)

هدف

زده کوونکی باید د تورو لوستل ، تلفظ کول او لیکل زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په ښهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی خپلو زده کوونکو ته ورانی چه نن موږ د شپږو تورو (ا، ب ، پ ، ت ، ټ ، ث) لوست وایو . ۲- له زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه ستاسو نوم له دغو تورو څخه په کوم توری شروع کیږی ؟ ۲- ښوونکی دی نومونه په توره تخته ولیکی او تکرار دی کړی.	ښوونکی دی زده کوونکو ته ورانی چه ورکړل شوی توری دی په خالی ځایونو کی ولیکی .	۱- ښوونکی دی لومړی او دوهم جدول تر پایه ولولی او په گوته دی وښئی . ۲- بیادی له څو زده کوونکو څخه و غوښتل شی چه پرتخته لی ولیکی.

یادونه : په همدی ډول دی دوهم ، دریم ، څلورم ، پنځم ، شپږم ، اووم او اتم تمرین درس ورکړل شی .

دریم فصل (لومړی تمرین)

(۱۶ مخ)

هدف

۱ - زده کوونکی باید د الفبا لوستل ، لیکل او تلفظ په متصله او منفصله توګه زده کړی .

۲- زده کوونکی باید د الف توری لوستل، تلفظ او لیکل په ځانګړو اشکالو زده کړی.

دریم لوست درسی فعالیتونه (لومړی تمرین)

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د الف توری تلفظ، ترتیب، آواز او لیکل زده کوونکو ته ورزده او تکرار کړی ۲- له زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه د آس د کلمی لمړی توری څه شی دی؟ (آه) څه ډول غږ لری؟پرله پسی دی تکرار شی تر څو د شاګردانو په ذهن کی ځای ولیسی .	د الف توری دی زده کوونکی تکرار او څلور ځلی دی د کتاب په خالی ځایونو کی ولیکی.	ښوونکی دی څو تنه شاګردان انتخاب کړی. تر څو د الف توری دری ډوله تلفظ وکړی وروسته دی څو تنه زده کوونکی د تختی مخی ته ولیږی چه د الف او مد لرونکی الف توری پر تخته ولیکی .

۵وهم تمرین

(د ۱۷ مخ څخه تر ۲۲ مخ پورې)

هدف

زده کوونکی باید د (ب ، ب ، پ ، پ ، ت ، ټ ، ټ ، ث ، ډ) تورو لوستل ، تلفظ کول اولیکل زده اوشکل نی وپیژنی .

د لومړی تمرین درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په بهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د (ب ، ب پ ، پ ت ، ټ ، ټ ، ث ، ډ) تورې تلفظ او په ترتیب سره دی د چارت له مخې ولولی، خپلو زده کوونکو ته دی وښئی او زده کوونکی دی تر ښوونکی وروسته په لوړ غږ تکرار کړی .	زده کوونکي دی د (ب، ب پ ، پ ، ت ، ټ ، ټ او ث ، ډ) تورې د کورنۍ وظیفې په ټوګه د کتاب په خالی ځایونو کې ولیکی .	ښوونکی دی تورې پر تخته ولیکی او له بیلو بیلو زده کوونکو څخه دی غوښتنه وشي چه هغه ولولی یعنی (ب ، ب) او نور

یادونه : ښوونکی دی لومړنۍ تمرینونه (۲ ، ٤ ، ٥ ، ٦ ، ۷ ، ۸ ، ۹ ، ۱۰ ، ۱۱ او ۱۲) تر ۲۲ مخ پورې په همدې ترتیب درس ورکړی .

څلورم فصل

(۲۳ مخ څخه تر (۲۸)مخ پورې)

هدف

زده کوونکی دی د کلمو تجزیه او له تورو څخه دی د کلمو جوړول زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی په کتاب کی له ورکړل شوو کلمو څخه چی وروسته ترالفبا لیکل شوی دی یوپادوه مثالونه کار وکړی . ۲- زده کوونکی دی په دوه کسیزه ډلو بیل او د کتاب له مخی دی د یو بل په مرسته کار وکړی .	۱- سوونکی دی د زده کوونکو له هغو گروپونو څخه چه خپل کارونه نی سرته رسولی وی یو یو نفر انتخاب کړی ترڅو هغوی د خپل کارطریقه نورو ته تشریح کړی . که څه نمګړتیاوی ښوونکی وینی باید هغه اصلاح کړی.	هر زده کوونکی دی د تمرین تر پایه خپل کار بشپړ کړی پدی معنی چه کلمی دی په تورو تجزیه، او بیا دی له تورو څخه کلمی جوړی کړی .

یادونه : ښوونکی دی د کتاب ۲٤ ، ۲۵، ۲۷،۲٦ او ۲۸ مخونه په هدی ترتیب تدریس کړی. ښوونکی دی د هر زده کوونکی کار و گوری او د زده کوونکو کار دی کنترول کړی ترڅو زده کوونکی خپل کارونه بشپړ کړی . که چیری زده کوونکی مرستی ته اړه ولری ښوونکی بایدمرسته ورسره وکړی .

پنځم فصل

لومړی لوست (۲۹ او ۳۰ مخونه)

هدف

۱ - زده کوونکی باید د ایمان او پر لوی څښتن (ج) د عقیدی لرلو په هکله څه زده کړی

۲- زده کوونکی باید د (الف) توری تلفظ او لیکل د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده کړی.

۳- د متن اضافی کلمی دی زده کړی .

٤- زده کوونکی باید د دی درس د کلموحرفونه ولیکی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی هغه کلمی چه دکتاب په چوکات کی دی پرتخته ولیکی بیادی ولولی اوزده کوونکی دی هغه تکرار کړی. ۲- هغه کلمی چه په چوکات کی نشته پر توره تخته دی ولیکل شی اوزده کوونکی دی هغه تکرارکړی ۳- پوښتنه دی وشی چه د (الله ایمان اواسلام)کلمی له کومو تورو څخه جوړی شوی دی.	۱- ښوونکی دی دکتاب متن قرائت او زده کوونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی . ۲- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی . ۳- یو څو زده کوونکی دی انتخاب شی، هغوی دی درس ولولی اونیمګړتیاوی دی اصلاح شی .	۱- ښوونکی دی څنی کلمی لکه (ایمان، اسلام، مسلمانان، خدای) انتخاب او بیایی دی ولولی. زده کوونکی دی دایره ورځخه وکاږی. ۲- لاندی پوښتنی دی وشی او زده کوونکی دی شفاهی ځواب وکړی: زمونږ دین څه دی ؟ مونږ د چا عبادت کوو؟ مسلمانان پر چا ایمان لری؟

نوټ : معلم صاحب باید د کتاب (۳۰) مخ زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړی.

د (ب) لوست

(۲۱ او ۲۲) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی دی د(ب) توری ، تلفظ او لیکل، د کلمی په اول، منځ اوپای کی زده کړی.
۲- زده کړونکی و کولای شی چی د چوکات کلمی ، د متن اضافی کلمی او جملی ولولی اوولیکی.
۳- د مکروب او ناروغی په هکله څه زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	لوست نه وروسته
۱- ښوونکی دی په کتاب کی د چارت کلمی ولولی او د (ب) د توری غږ دی تلفظ کړی . ۲- وروسته دی زده کـوونکی پنځه ځلی د چارت کلمـی د ښوونکی پر تعقیب ولولی . ۳- دمکروب کلمه چی د ناروغتیا سبب گرځی تشریح شی .	۱- ښوونکی دی درس ولولی، زده کوونکی دی غوږ ونیسی او بیا دی ښوونکی درس په لوړ آواز ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی. ۲- بیا دی زده کوونکی په پټه خوله مطالعه وکړی. ۳- څو کسه زده کوونکی دی درس ولـولی او د دوی نیمگړتیاری دی اصلاح شی .	لـه زده کـوونکـو څخه دی دا لاندی پوښتنی وشی : ۱- بابا ولی ناروغه دی ؟ ۲- بابا څه ناروغی لری. ۳- دبابا تبه د څه شی نه پیدا شوی ده ؟ هر زده کوونکی دی خپل نظر شفاهی څرگند کړی. ٤- د (۲۲) مخ تمرین دی بشپړ شی.

د (پ) لوست

د (۲۳ - ۲٤) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید داسلام د سترپیغمبرحضرت محمد(ص) په هکله معلومات حاصل کړی.
۲- (پ) توری لوستل ، تلفظ او لیکل باید زده کړی .
۳- باید دچارت او دمتن دنورو کلمو تلفظ اولیکل، زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی هغه کلمی چه د کتاب په چوکات کی لیکل شوی دی پرتخته ولیکی، بیا دی ولولی او د (پ) توری تلفظ دی په کلمه کی زده کوونکو ته وښیی ۲- د درس دمتن کلمی دی پر تخته ولیکل شی اوتکراردی شی. ۳- دسرورعالم حضرت محمد (ص)په هکله دی زده کوونکو ته معلومات ورکړل شی .	۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی ۲- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی. ۳- څو تنه زده کوونکی دی درس ولولی اودهغوی نیمګړتیاوی دی اصلاح شی .	۱- د سرور کاننات حضرت محمد (ص) په هکله دی له زده کوونکو څخه پوښتنه وشی او شفاهی ځواب دی تر لاسه شی . ۲- د (۲٤) مخ تمرین دی زده کوونکو ته د کورنی وظیفی په توګه هدایت وشی.

د (ت) لوست

(۳۵ او ۳۶) مخونه

هدف

۱ - زده کړونکی باید د (ت) د تورې، تلفظ او لیکل، د کلمې په پیل، منځ او پای کې زده او وپیژنی .
۲- باید په کتاب کې د چارت کلمې او هغه کلمې چې په چارت کې نشته، ولې د کتاب په متن کې لیکل شوی دی، دغو لوستل، تلفظ او لیکل زده کړل شي .

درسي فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په بهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د چوکات کلمې په غټو تورو په تخته ولیکي. بیا دی ولولي او زده کوونکی دی هغه تکرار کړي. ۲- هغه کلمې چې د کتاب په چارت کې نشته پر تخته دی ولیکل شي او زده کوونکی دی هغه تکرار کړي . ۳- له زده کوونکو څخه دی د نوو کلمو شمیر و پوښتل شي.	۱- ښوونکی دی دکتاب متن په لوړغږولولي او زده کوونکی دی هغه تکرار کړي. ۲- زده کوونکی دی په پته خوله متن مطالعه کړي. ۳- یو څو زده کوونکی دی د کتاب متن ولولي او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړي .	۱- ښوونکی دی دا لاندی پوښتنې له زده کوونکو څخه وکړي او شفاهي ځوابونه دی تر لاسه کړي . ۲- توت څه ډول دی؟ ۳- د تورپیکی صحت څه ډول دی؟ ٤- زده کوونکی دی د (۳٦) مخ تمرین ولیکي .

د (ټ) لوست

(۲۷ او ۲۸) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (ټ) توری تلفظ اولیکل ، د کلمی په پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .

۲ - زده کوونکی باید د چارت او متن کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

تر لوست د مخه

۱- ښوونکی دی لومړی دچوکات کلمی پرتخته ولیکی، بیا دی ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.

۲- هغه کلمی چی په چارت کی نشته ښوونکی دی ولیکی او ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د کتاب متن په لوړ غږ ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.

۲- زده کوونکی درس په پټه خوله ولولی .

۳- یو څو تنه دی د کتاب متن په لوړ آواز ولولی که نمګړتیاوی وی نو ښوونکی دی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی دا لاندی پوښتنی له زده کوونکو څخه وکړی:

۱- د زړغونی پلار څه شی لری؟

۲- دباغ دیوال څنګه دی ؟

۳- په باغ کی د څه شی پټی دی ؟

٤- ښوونکی دی دکتاب د (۲۸) مخ تمرین پر زده کوونکو بشپړکړی.

د (ث) لوست

(۳۹ او ٤٠)

هدف

۱ - زده کوونکی باید د (ث) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
۲- زده کوونکی باید د چوکات او متن کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

ښوونکی دی دکتاب دچارت کلمی پرتخته ولیکی بیادی ولولی اوزده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

۲- زده کوونکی دی نوی کلمی پیدا او دهغوی په شاوخوا دی دایره چاپیره کړی .

۳- ښوونکی دی کلمی ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی متن قرائت او زده کوونکی دی غوږ ونیسی

۲- ښوونکی دی متن قرائت او زده کوونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی.

۳- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی .

٤- یوځوزده کوونکی دی متن ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ډلوویشی او له دوی څخه دی غوښتنه وشی چی د متن کلمی پر تخته ولیکی.

۲- ښوونکی دی (٤٠) مخ تمرین زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړی.

د ښوونکی لپاره یادونه :

زده کوونکی دی د کم سویه او باسویه په لحاظ په ګروپونو بیل کړای شی .

د (ج) لوست

(٤١ او ٤٢ مخونه)

هدف

١- زده کوونکی باید د (ج) د توری تلفظ اولیکل، ډکلمی په اول، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
٢- زده کوونکی باید په کتاب کی د چارت کلمی او د کتاب د متن کلمی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١- ښوونکی دی هغه کلمی چه په چوکات کی لیکل شوی دی پرتخته ولیکی، بیادی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .
٢- هغه کلمی چی په چوکات کی نشته، ښوونکی دی پرتخته ولیکی او ولولی . زده کوونکی دی تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

١- د لوست متن دی ښوونکی ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
٢- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی .
٣- د متن مطالعه دی په پته خوله صورت ومومی .
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او دهغوی نیمګړتیاوی دی اصلاح شی .

تر لوست وروسته

١- یو څو زده کوونکی دی هغه کلمی چه پر تخته لیکل شوی دی ، ولولی او بیادی وښئی .
٢- هر یو زده کوونکی دی سبا ورځ دری دری کلمی چه لومړی توری ئی په (ج) پیل شوی وی ووائی .
٣- د (٤٢) مخ تمرین باید زده کوونکی بشپړکړی.

د (چ) لوست

(٤٣ او ٤٤)مخونه

هدف

١ - زده کوونکی باید د (چ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
٢- زده کوونکی باید په کتاب کی د چارت کلمی اوهغه چی په چارت کی نشته اما په متن کی راغلی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١- ښوونکی دی له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړی چه دچا نوم د (چ) په توری پیل کیږی. په تخته دی ولیکل شی او ودی لوستل شی .

٢- ښوونکی دی هغه کلمی چی په چوکات کی نشته اوپه متن کی دی پرتخته ولیکی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

دلوست په بهیرکی

١- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ له ښوونکی نه وروسته څو ځلی هغه تکرار کړی .

٢- په پټه خوله دی مطالعه وشی .

٣- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی د تلفظ او لوست نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

ښوونکی دا پوښتنی له زده کوونکونه وکړی او زده کوونکی دی شفاهی ځوابونه ورکړی.

١- له زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه په خیمه کی څوك اوسیږی ؟

٢- کوچیان له بازاره څه اخلی ؟

٣- مچان دځه شی سبب گرزی؟

٤- زده کوونکی دی په گروپونو وویشل شی او د چوکات کلمی دی ولیکی .

٥- د (٤٤) مخ تمرین دی زده کوونکی په کور کی ولیکی .

د (ح) لوست

(٤٥ او ٤٦) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی بایدد(ح) توری تلفظ اولیکل، د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
۲- زده کوونکی باید د متن او چارت کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی په چوکات کی لیکل شوی کلمی پرتخته ولیکی او په لوړ آواز دی ولولی .
۲- زده کوونکی دی په ډله ایزه اویوازی توګه تکرار کړی.
۳- کومی کلمی چی په چارت کی نشته زده کوونکی دی په متن کی پیدا کړی اوهغه دی ولولی او تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی متن په لوړ غږ ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
۲- تر ښوونکی وروسته زده کوونکی باید درس په ډله ایزه توګه تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی په پټه خوله متن مطالعه کړی.
٤- یو څو زده کوونکی دی لوست ولولی او ښوونکی دی دهغوی غلطی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- یو څو زده کوونکی دی د تختی مخی ته راشی او نوی کلمی دی ولولی .
۲- د ګروپی کار په ډول باید زده کوونکی د (ح) توری په کلمه کی پیدا کړی او دایره دی ورځنی چاپیره کړی .
۳- د (٤٦) مخ تمرین دی زده کوونکی په کورونو کی ولیکی .

د (خُ) لوست

(٤٧ او ٤٨) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (خُ) توری تلفظ اولیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
۲ - زده کوونکی باید د چارت او متن کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

دلوست نه مخکی

۱- ښوونکی باید په چوکات کی لیکل شوی کلمی پرتخته ولیکی او په لوړ غږ دی ولولی .
۲- زده کوونکی دی په ډله ایزه او یوازی توګه تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی دچوکات کلمی په متن کی پیدا او تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی متن په لوړ آواز ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
۲- زده کوونکی دی درس تر ښوونکی وروسته په لوړ آواز په ډله ایزه توګه تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی.
٤- خُو تنه زده کوونکی دی درس تکرار کړی او ښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- یو خُو زده کوونکی دی د تختی مخی ته راشی او نوی کلمی دی ولولی .
۲- ښوونکی زده کوونکی په خُو ګروپونو وویشی او د (خُ) توری دی په کلمو کی پیدا کړی او هغه دی په نښه کړی.
۳- زده کوونکی دی د (٤٨) مخ تمرین ولیکی .

د (څ) لوست

(٤٩ - ٥٠) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د(څ) توری تلفظ او لیکل، دکلمې په پیل، منځ اوپای کی زده اوویژنی.

۲- زده کوونکی باید په کتاب کی دچارت کلمی اوهغه کلمی چه په چارت کی نشته او دلوست په متن کی راغلی دی زده کړی.

درسی فعالیتونه

لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی په چوکات کی لیکل شوی کلمی پر تخته ولیکی او په لوړ غږ دی ولولی .

۲- زده کوونکی دی په ډله ایزه او یواځنی توګه هغه تکرار کړی.

۳- زده کوونکی دی د چوکات کلمی په متن کی پیدا او تکرار کړی.

دلوست په بهیر کی

۱- متن دی ښوونکی ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی

۲- زده کوونکی دی درس ترښوونکی وروسته په لوړ اواز په ډله ایزه توګه تکرارکړی .

۳- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی .

٤- یوځو زده کوونکی دی لوست وکړی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

۱- یو څو زده کوونکی دی د تختی مخی ته راشی او نوی کلمی دی ولولی .

۲- د ګروپی کار په ترڅ کی دی زده کوونکی د (څ) توری په کلمه کی پیدا او دائره دی ځینی چاپیره کړی.

۳- زده کوونکی دی د (٥٠) مخ تمرین ولیکی.

د (خ) لوست

(۵۱ - ۵۲) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (خ) توری تلفظ او لیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی .
۲- زده کوونکي باید د متن او چارت کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- سبوونکی دی د چوکات کلمی پر تخته ولیکی ، هره کلمه دی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

۲- هغه کلمی چی په چوکات کی نشته ، سبوونکی دی هغه ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- لړی، سبوونکی د درس متن ولولی او زده کوونکی دی ورته غوږ ونیسی.

۲- سبوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .

۳- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی .

٤- یو څو زده کوونکی دی لوست ولولی اوسبوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- څو تنه زده کوونکی دی د تختی مخی ته راوغوښتل شی او په کلمو کی دی د (خ) توری وسپیی .

۲- یو څو زده کوونکی دی نوی کلمی ولولی .

۳- د ۵۲) مخ تمرین دی زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړای شی.

صنفی آزمونیه د کتاب

(۵۳- ۵٤- ۵۵) مخونه

هدف

۱- د نوم لیکنه پدی معنی چه زده کوونکی خپل نوم لیکلی شی که نه .

۲- زده کوونکی دی دری دری نومونه چه د پیل توری نی (ب او ح)وی ولیکی تر څو دوی د تورو شکلونه هیرنکړی .

۳- دزده کوونکو ازموینل چه ایا متن لوستلی شی او پوښتنو ته ځوابونه ورکولای شی که نه د ښوونکی وظیفه ده .

ښوونکی ته یادونه :

۱- زده کوونکی دی کیسه په پټه خوله ولولی او پوښتنو ته دی په ځانګړی ترګه د یوبل له مرستی پرته ځواب ورکړی . ښوونکی دی د لوست په وخت کی له دوی سره مرسته نه کوی .

۲- که زده کوونکو خپل نوم نشوای لیکلای ، څلرم درس یعنی د تورو ، ترکیب دی تکرار شی .

۳- که زده کوونکو له پنځو پوښتنو څخه دری پوښتنو ته صحیح ځواب ورنکړ ، ښوونکی دی دکتاب له پیل څخه درس تکرار کړی .

د (د) لوست

(٥٦ - ٥٧) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (د) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
۲- زده کوونکی باید په کتاب کی د چارت او د متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی هغه کلمی چه دکتاب په چارت کی دی پرتخته ولیکی ، ودی لولی او تلفظ دی کړی .
۲- زده کوونکی دی وروسته تر ښوونکی هغه تکرار کړی
۳- په کتاب کی د متن نوی کلمی دی پر تخته ولیکلی شی ښوونکی دی هغه ولولی اوزده کوونکی دی تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی جوخت ورسره په لوړ غږ هغه تکرار کړی .
۲- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی .
۳- یو څو زده کوونکی دی نوی لوست ولولی او ښوونکی دی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ډلو جدا او دوی ته دی وویل شی چه هره ډله به په نوو کلمو کی د(د)، توری پیدا او ولیکی .
۲- څو تنه زده کوونکی دی د (د) توری په هغو کلمو کی پیدا کړی چه په تخته لیکل شوی دی او هغه دی وښیی.
۳- زده کوونکی دی د (٥٧) مخ تمرین ولیکی .

د (ډ) لوست

(۵۸ - ۵۹) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (ډ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .

۲- زده کوونکی باید د چارت او متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی . بیا دی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

۲- ښوونکی دی د متن نوی کلمی لکه (منزل ، غنم) او وخت ، دی پرتخته ولیکی، بیا دی ولولی ، او زده کوونکی دی تکرار کړی.

۲- زده کوونکی باید نوی کلمی په تورو ولیکی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی دلوست متن ولولی بیا دی زده کوونکی په لوړ غږ تکرار کړی .

۲- زده کوونکی دی په پته خوله د لوست متن ولولی .

۳- یو څو زده کوونکی دی درس په لوړ آواز ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی زده کوونکی په څو ډلو وویشی او نوی کلمی دی په ساده جملو کی استعمال کړی.

۲- د (زینب او پخوی) په کلمو کی کوم توری دی.

زده کوونکی نی دی ولیکی .

۳- ښوونکی دی (۵۹) مخ زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړی.

د (ذ) لوست

(٦٠ - ٦١) مخونه

هدف

١- زده کوونکی باید د (ذ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .

٢- زده کوونکی باید د چارت او د متن نوی کلمی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی، بیا دی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرارکړی.

٢- د متن نوی کلمی دی پر تخته ولیکل شی ، ودی لوستل شی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .

٣- زده کوونکی دی نوی کلمی په تورو ولیکی .

د لوست په بهیر کی

١- دلوست متن دی ښوونکی ولولی وروسته دی زده کوونکی په لوړ غږ هغه تکرار کړی.

٢- زده کوونکی دی په پته خوله مطالعه وکړی .

٣- یوځو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

١- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو دلو بیل اوځنی کلمی دی په ساده جملوکی ولیکی او له دوی څخه وپوښتی .

٢- دنجلی اوذاکری په نومونو کی کوم توری وجودلری ودی لیکی.

٣- د زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه : ذاکره ولی ښه نجلی ده ؟

٤- زده کوونکی دی د(٤١) مخ تمرین ولیکی .

د (ړ) لوست

(٦٢ ، ٦٣) مخونه

هدف

١ - زده کوونکی باید د (ړ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
٢- زده کوونکی باید د چارت او متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١- ښوونکی دی په کتاب کی د چارت کلمی پر تخته ولیکی او په لوړ غږ دی ولولی .
٢- زده کوونکی دی په ډله ایزه توګه هغه ولولی او له هر یو څخه دی بیله بیله پوښتنه وشی .

د لوست په بهیر کی

١- ښوونکی دی متن ولولی او زده کوونکی دی غوږونیسی.
٢- ښوونکی دی متن ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .
٣- زده کوونکی دی په پټه خوله مطالعه وکړی.
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی اوښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

١- څوکسه زده کوونکی دی نوی کلمی پرتخته ولیکی .
٢- څو زده کوونکی دی د (ړ) توری په چاپیریال دایره وباسی.
٣- زده کوونکی دی د ٦٣ مخ تمرین په کور کی ولیکی .

د (ړ) لوست

(٦٤ - ٦٥) مخونه

هدف

ادە کړونکی باید د(ړ) توری تلفظ، اولیکل د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
۲- زده کړونکی باید د چارت او متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی. بیادی ولولی او د (ړ) توری دی زده کوونکوته وښیی .
۲- زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .
۳- د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکل شی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د کتاب متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
۲- بیادی زده کوونکی تر ښوونکی وروسته تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی په پته خوله متن مطالعه کړی.
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی زده کوونکی د سویی د په نظر کی نیولو سره په څو ګروپونو وویشی.
۲- زده کوونکی دی د (ړ) توری په کلمو کی پیدا او نښه کړی.
۳- څو تنه زده کوونکی دی تختی ته لاړ شی او ځنی کلمی دی ولیکی .
٤- د (٦٥) مخ تمرین دی زده کوونکی په خپل کورو کی ولیکی

PROPERTY OF ACKU 4594

د (ز) لوست

(٦٦-٦٧) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د(ز) توری تلفظ اولیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی .
۲- زده کوونکی باید د کتاب د چارت او د متن نوی کلمی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی دچارت نوی کلمی پرتخته ولیکی. بیادی ولولی او د(ز) توری دی په کلمه کی وښودل شی ۲- زده کوونکی دی هغه تکرار کړی. ۳- د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکل شی او زده کوونکی دی هغه تکرارکړی .	۱- ښوونکی دی دکتاب متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی. بیادی زده کوونکی هغه په لوړ غږ تکرار کړی . ۲- زده کوونکی دی په پته خوله متن مطالعه کړی. ۳- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۱- ښوونکی دی د سویی په اندول زده کوونکی په بیلو بیلو ګروپونو جدا او د (ز) توری دی په کلموکی پیدا او نښه کړی . ۲- څوکسه زده کوونکی دی تختی ته ولاړشی او د درس لخنی کلمی دی ولیکی . ۳- د (٦٧) مخ تمرین دی ولیکل شی.

ښوونکی ته یادونه : مخکی لدی چه زده کوونکی تمرین ولیکی، ښوونکی دی جملی ولولی او زده کوونکی دی ور لاندی کړنې وپاسی که زده کوونکو جملی په صحیح توګه نشانی کړی نه وی نو څرګنده ده چه زده کوونکی یوالمی له غږ سره اشنا دی او کلمه نه پیژنی، ښوونکی دی تیرشوی مخونه یو ځل بیا تکرار کړی.

د (ژ) لوست

(٦٨ - ٦٩) مخونه

هدف

١- زده کوونکی باید د (ژ) توری تلفظ او لیکل د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی .
٢- زده کوونکی باید نوی کلمی او د کتاب د چارت کلمی زده او وپیژنی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١- ښوونکی دی د کتاب د چوکات کلمی پرتخته ولیکی، ودی لولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .
٢- د متن نوی کلمی دی ولیکل شی او تکرار دی شی.
٣- له هر زده کوونکی څخه دی په ځانګړی توګه غوښتنه وشی چه کلمی ولولی .

د لوست په بهیر کی

١- ښوونکی دی ددرس متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
٢- ښوونکی دی یو واربیا متن ولولی اوزده کوونکی دی په لوړ غږهغه تکرار کړی.
٣- زده کوونکی دی په پته خوله متن مطالعه کری.
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

١- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ګروپونو بیل او نوی کلمی دی مشق کړی.
٢- څوکسه زده کوونکی دی د (ژ) توری دتختی پرمخ په کلموکی نښه کړی .
٣- له تورو څخه دی کلمه جوړه کړی .
٤ـ د (٦٩) مخ تمرین دی زده کوونکی په کور کی ولیکی.

د (ږ) لوست

(۷۰ - ۷۱) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (ږ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی به پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
۲- زده کوونکی باید د چارت او متن کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د کتاب دچارت کلمی پرتخته ولیکی او وی دی لولی.
۲- زده کوونکی دی تکرار کړی.
۳- ښوونکی دی د متن نوی کلمی پرتخته ولیکی، بیا دی ولولی او زده کوونکی دی هغه کلمی تر ښوونکی وروسته تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .
۲- ښوونکی دی درس په لوړ آواز و وایی او زده کوونکی دی تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی په پټه خوله متن مطالعه کړی.
٤- څو شاګردان دی درس ولولی او ښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- زده کوونکی دی د (ږ) توری په کلمو کی پیدا کړی.
۲- زده کوونکی باید له نور کلمو څخه یوه یوه ساده جمله جورکړی.
۳- د (۷۱) مخ تمرین دی ولیکل شی.

د (س) لوست

(۷۲- ۷۳) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د (س) توری تلفظ اولیکل، دکلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی .
۲- د کتاب چارت او متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د کتاب د چارت کلمی پر تخته ولیکی او ودی لولی.	۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .	۱- زده کړونکی دی د (س) توری په کلمو کی پیداکړی.
۲- زده کوونکی دی هم هغه کلمی ولولی اوتکرار دی کړی.	۲- ښوونکی دی درس ولولی اوزده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .	۲- له نوو کلمو څخه دی یوه یوه ساده جمله جوړه کړی
۳- ښوونکی دی دمتن نوی کلمی پرتخته ولیکی بیا دی ولولی او زده کوونکی دی وروسته تر ښوونکی هغه تکرار کړی. نوی کلمی (غابښ، ورځ، لیک ، بدن).	۳- زده کوونکی دی په پته توله متن مطالعه کړی . ٤- څو شاګردان دی درس ولولی اوښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۳- کلمی دی په تورو ولیکی او ودی لولی . ٤- د (۷۳) مخ تمرین دی زده کوونکی په کورونوکی ولیکی .

د (ش) لوست

(٧٤ - ٧٥) مخونه

هدف

١- زده کوونکی باید د(ش) توری تلفظ کول او لیکل، دکلمو په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
٢- په کتاب کی د چارت او د متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
١- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی او ودی لولی . ٢- زده کوونکی دی کلمی تکرار او ولیکی . ٣- ښوونکی دی دمتن نوی کلمی ولیکی بیادی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .	١- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی . ٢- ښوونکی دی یو ځل بیا متن ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی ٣- زده کوونکی دی په پته خوله متن مطالعه کړی . ٤- څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	د درس کلمی دی ښوونکی پر تخته ولیکی او څو تنه زده کوونکی دی هغه ولولی. ٢- د (ش) له توری څخه دی په کلمو کی دایره چاړیره کړی. ٣- زده کوونکی دی کلمی په تورو ولیکی . ٤- د (٧٥) مخ تمرین دی زده کوونکی په کورونوکی ولیکی .

د (ښ) لوست

(۷۶ - ۷۷) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (ښ) توری لوستل اولیکل د کلموپه پیل ، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
۲-زده کوونکی باید د چارت او متن کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی او ودی لولی.
۲- ښوونکی دی کلمی ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.
۳- ښوونکی دی د متن کلمی پرتخته ولیکی ، هغه دی ولولی او زده کوونکی دی تکرار کړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ورته ونیسی .
۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.
٤- څوزده کوونکی دی لوست ولولی اوښوونکی دی د دوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- څو زده کوونکی دی دچارت کلمی ولولی او تلفظ کړی.
۲- څو زده کوونکی دی د درس نوی کلمی پرتخته ولیکی.
۳- د (۷۷) مخ تمرین دی ولیکل شی.

د (ص) لوست

(۷۸ - ۷۹) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د(ص) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی .
۲- د چارت او لوست نوی کلمی دی زده او جملی دی ولوستل شی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی دچارت کلمی پرتخته ولیکی او ودی لولی . ۲- ښوونکی دی کلمی ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرارکړی. ښوونکی دی د متن نوی کلمی پرتخته ولیکی، هغه دی ولولی اوزده کوونکی دی هغه تکرار کړی. ٤- د زده کوونکوځخه دی پوښتنه وشی چه څوك ځمکه لری اوڅه حاصل ورځنی اخلی؟	۱- ښوونکی دی د لوست متن ولولی او زده کوونکی دی ورته غوږ ونیسی . ۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی . ۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه وکړی . ٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولـپولی او ددوی نیمګړتیاوی دی اصلاح شی .	۱- یو څو زده کوونکی دی د چارت کلمی ولولی او تلفظ دی کړی . ۲- یو څو زده کوونکی دی ددرس نوی کلمی پر تخته ولیکی . ۳- د (۷۹) مخ تمرین باید زده کوونکی په کورونو کی د کورنی وظیفی په توګه ولیکی.

د (ض) لوست

(۸۰- ۸۱) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د(ض) توری تلفظ او لیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
۲- د چارت او کتاب د متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالتیونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی دچارت کلمی پر تخته ولیکی او ودی لولی. ۲- هغه کلمی چه د درس په متن کی راغلی دی پرتخته دی ولیکل شی. ۳- زده کوونکی دی کلمی ولولی او ودی لیکی . ٤- له ښوونکی څخه وروسته دی زده کوونکی هغه په لوړ غږ تکرار کړی. ٥- د حوض د اوبو په هکله دی له څو زده کوونکو څخه پوښتنه وشی .	۱- ښوونکی دی دلوست متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی . ۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی. ۳- زده کوونکی دی متن په پته خوله مطالعه کړی. ٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.	۱- یو څو زده کوونکی دی د چارت کلمی ولولی او د (ض) توری دی د تختی پر مخ په کلمو کی وښیی. ۲- پوښتنه دی وشی چه لامبو وهل انسان ته څه ګټه لری ؟ ۳- د (۸۱) مخ تمرین دی ولیکل شی .

د (ط) لوست

د ۸۲- ۸۳) مخونه

هدف

۱ - زده کوونکی باید د (ط) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی .

۲- د چارت او د کتاب د متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی نوی کلمی پر تخته ولیکی او ودی لولی.

۲- زده کوونکی دی هغه ولولی او تکرار دی کړی .

۳- د درس د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکل شی، ودی لوستل شی او وروسته دی زده کوونکی هغه تکرار کړی .

٤- د زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه طوطی پیژنی که نه، په شفاهی توګه دی بحث وشی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د کتاب متن ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .

۲- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی .

۳- یوڅو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

۱- یو څو زده کوونکی دی نوی کلمی پر تخته ولیکی .

۲- یوڅو زده کوونکی دی د (ط) توری په کلمو کی وښیی.

۳- پوښتنه دی وشی چه خلك ولی طوطی ساتی ؟

٤- پوښتنه دی وشی چه طوطی چیری ساتل کیږی او څه رنګ او بنه لری؟

٥- د (۸۳) مخ تمرین دی زده کوونکی په کور کی ولیکی .

د (ظ) لوست

(٨٤ - ٨٥) مخونه

هدف

١ - زده کوونکی باید د ظ) توری تلفظ او لیکل د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
٢- زده کوونکی باید په کتاب کی د چارت او په لوست کی د متن نوی کلمی دی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

١٠- ښوونکی دی د کتاب د چارت کلمی پر توری تختی ولیکی، ودی لولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

٢- د کتاب د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکی او بیا دی ولولی لکه (قرآن شریف) او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

٣- پوښتنه دی وشی چه د څو تنو قرآن شریف زده دی .

د لوست په بهیرکی

١- ښوونکی دی ددرس متن ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی.

٢- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.

٣- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

١- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ډلو بیل او له هری ډلی څخه دی وغواړی چه د (ظ) توری په کلمو کی پیدا او دایره ځینی چاړپیره کړی.

٢- دری دری کلمی چه د (ظ) توری درلودونکی وی ولیکی .

٣- د (٨٥) مخ تمرین دی زده کوونکی په کور کی ولیکی .

د (ع) لوست

(٨٦- ٨٧) مخونه

هدف

١- زده کړونکی باید د (ع) توری تلفظ او لیکل دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
٢- زده کړونکی باید په کتاب کی د چارت او د درس د متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
١- ښوونکی دی هغه نوی کلمی چه دکتاب په چارت کی راغلی دی پرتخته ولیکی او ودی لولی. ٢- زده کړونکی دی هغه تکرار کړی. ٣- ښوونکی دی د متن نوی کلمی پر تخته ولیکی او بیا دی ولولی .	١- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کړونکی دی غوږ ونیسی . ٢- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کړونکی دی په لوړغږهغه تکرارکړی. ٣- زده کړونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی. ٤- یو څو زده کړونکی دی درس ولولی اوښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	١- زده کړونکی دی په ګروپونوجدا اود (ع) توری دی په کلمو کی پیدا کړی . ٢- دوه دوه کلمی چه اول توری نی په (ع) پیل شوی وی ولیکی. ٣- د کتاب د چارت له کلمو څخه دی یوه یوه جمله جوړه کړی . ٤- د(٧٨) مخ تمرین دی زده کړونکی په کور کی ولیکی .

د (غ) لوست

(۸۸ - ۸۹) مخونه

هدف

۱ - زده کوونکی باید د(غ) توری تلفظ او لیکل، دکلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی .

۲- د چارت او متن نوی کلمی دی زده کری .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- د چارت نوی کلمی دی ښوونکی پر تخته ولیکی او بیا دی ولولی.	۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .	۱- ښوونکی دی یوه جمله د درس له منځ نه ولولی او زده کوونکی دی ور لاندی کړښه وباسی .
۲- زده کوونکی دی کلمی ولیکی او تکرار دی کړی .	۲- ښوونکی دی یو ځل بیا درس ولولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .	۲- د (غ) له توری څخه دی زده کوونکی دایره چاپیره کړی.
۳- د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکل شی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی	۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی .	۳- نوی کلمی دی یو څو زده کوونکی پر تخته ولیکی.
٤- د کتاب د رسم په هکله دی پوښتنه وشی .	٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	٤- د (۸۹) مخ تمرین دی ولیکل شی.

د (ف) لوست

(۹۰ - ۹۱) مخونه

هدف

۱ - زده کوونکی بایدد (ف) توری لوستل او لیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.

۲- د چارت او متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی دچارت کلمی پرتخته ولیکی او ودی لولی .

۲- زده کوونکی دی کلمی تکرار کړی .

۳- نوی کلمی دی پر تخته ولیکل شی او زده کوونکی دی هغه ولولی.

٤- پوښتنه دی وشی چی جا فابریکه لیدلی او که نه . ښوونکی دی دیوی فابریکی په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړی.

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .

۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ تکرار کړی.

۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.

٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی تلفظ او نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

۱- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او د (ف) له توری دی دایره را وکاږی.

۲- له زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی هغه څوك چی په افغانستان کښی اوسی د څه په نوم یادیږی؟

۳- د (۹۱) مخ تمرین باید زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړل شی.

د (ق) لوست

(۹۲ - ۹۳) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د (ق) توری تلفظ اولیکل، دکلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
۲- په کتاب کی د چارت او متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- د چارت کلمی دی ښوونکی پر تخته ولیکی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .
۲- د درس نوی کلمی دی ښوونکی پر تخته ولیکی، ودی لولی او زده کوونکی دی هغه تکرار کړی .
۳- زده کوونکو ته دی د اخلاقو په هکله معلومات ورکړل شی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی.
۲- ښوونکی دی متن ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی نیمګړتیاوی اصلاح کړي .

تر لوست وروسته

۱- زده کوونکی دی په بیلو بیلو ګروپونو بیل شی ترڅو چه د (ق) د توری په شاوخوا دایره وباسی .
۲- یوه یوه کلمه چه د (ق) په توری پیل کیږی ودی لیکل شی .
۳- د (۹۲) مخ تمرین دی زده کوونکی په کور کی ولیکی .

د (ك) لوست

(٩٤ - ٩٥) مخونه

هدف

١- زده کوونکی باید د (ك) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
٢- د درس د چارت او د متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیرکی	تر لوست وروسته
١- ښوونکی دی دچارت کلمی پرتخته ولیکی او ودی لولی . ٢- زده کوونکی دی هغه په لوړغږ ولولی اوتکرار دی کړی ٣- د متن نوی کلمی دی ښوونکی پرتخته ولیکی او زده کوونکی دی هغه ټکرار کړی . ٤- له زده کوونکو څخه دی پوښتنه وشی چه تاسو له یو بل سره مرسته کوی؟ صنفی مباحثه دی وشی.	١- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کوونکی دی ورته غوږ ونیسی . ٢- ښوونکی دی یو ځل بیا درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړغږهغه تکرار کړی. ٣- په پټه خوله دی متن مطالعه کړی. یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	١- یو څو زده کوونکی دی پرتخته لیکل شوی جملی ولولی او د (ك) له توری څخه دی دایره چاپیره کړی ٢- دکومك په هکله دی یوه لنډه جمله ولیکل شی . ٣- د (٩٥) مخ تمرین دی ولیکل شی.

د (گ) لوست

(۹۶ - ۹۷)

هدف

۱- زده کړونکی باید د(گ) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
۲- زده کړونکی دی د چارت او متن نوی کلمی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- د کتاب د چارت کلمی دی پرتخته ولیکل شی او بیا دی ولوستل شی . ۲- زده کړونکی دی تر ښوونکی وروسته هغه په لوړ غږ تکرار کړی . ۳- د متن نوی کلمی دی پر تخته ولیکل شی او ودی لوستل شی زده کړونکی دی هغه تکرار کړی .	۱- ښوونکی دی متن ولولی او زده کړونکی دی ورته غوږ ونیسی . ۲- زده کړونکی دی له ښوونکی سره یوځای درس تکرار اوپه لوړ غږدی ولولی. ۳- زده کړونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی. ٤- یو څو زده کړونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.	۱- زده کړونکی دی د (گ) له توری نه دایره وباسی. ۲- د متن نوی کلمی دی یوځو زده کړونکی ولولی او ودی ښیی. ۳- پوښتنه دی وشی چی له ګلانو څه شی جوړیږی؟ ٤- د (۹۷) مخ تمرین باید زده کړونکی د کورنی وظیفی په توګه ولیکی .

د (ل) لوست

(۹۸ - ۹۹) مخونه

هدف

۱ - زده کوونکی باید د(ل) توری لوستل او لیکل، د کلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
۲- د درس د چارت او د متن نوی کلمی دی زده کړل شی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د چارت کلمی پرتخته ولیکی اوبیا دی ولولی .
۲- زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی .
۳- ښوونکی دی د درس نوی کلمی پر تخته ولیکی او بیا دی ولولی : (مجاهده، هجرت، روس خیمه) زده کوونکی دی هغه تکرار کړی
٤- پوښتنه دی وشی چی مهاجر چاته ویل کیږی؟

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کوونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی .
۲- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.
۳- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ډلو بیل او دوی ته دی وویل شی چه هره ډله د چارت کلمی ولولی او د (ل) له توری څخه دی دایره چاپیره کړی.
۲- دمشکلی کلمی په باب دی یوه یوه جمله جوړه کړی.
۳- موږ ولی خپل کور او مال پری ایښی ږ ؟ شفاهی ځواب دی ورکړل شی .
٤- د (۹۹) مخ تمرین دی زده کوونکی په کورونوکی ولیکی .

د (م) لوست

(۱۰۰ - ۱۰۱) مخونه

هدف

۱- زده کوونکی باید د (م) توری تلفظ او لیکل، دکلمی په پیل، منځ اوپای کی زده او وپیژنی.
۲- دکتاب د چارت اود کتاب نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی دچارت کلمی پر تخته ولیکی او بیادی ولولی .
۲- زده کوونکی دی کلمې ولولی او ودی لیکی .
۳- د متن نوی کلمی دی پرتخته ولیکی او زده کوونکی دی هغه ولولی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی ورته غوږ ونیسی .
۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی.
۳- زده کوونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.
٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .

تر لوست وروسته

۱- ښوونکی دی دوه جملی ولولی او هر زده کوونکی دی په کتاب کی ور لاندی کرښه وباسی.
۲- د (م) توری په شاوخوا دی دائره را وباسی
۳- یو څو زده کوونکی دی نوی کلمی پرتخته ولیکی
٤- د (۱۰۱) مخ تمرین دی زده کوونکی د کورنی وظیفی په ډول ولیکی .

د (ن) لوست

(۱۰۲ - ۱۰۳) مخونه

هدف

۱ - زده کړونکی باید د (ن) توری تلفظ اولیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده اوویژنی .
۲- د چارت او متن نوی کلمی دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی دکتاب دچارت نوی کلمی پرتخته ولیکی او بیاد ولولی . ۲- زده کړونکی دی کلمی تکرار کړی . ۳- دمتن نوی کلمی دی پرتخته ولیکل شی او زده کړونکی دی ولولی. ٤- د اختر په هکله باید زده کړونکو ته معلومات ورکړل شی.	۱- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کړونکی دی غوږ ونیسی . ۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی . ۳- زده کړونکی دی متن په پته خوله مطالعه کړی. ٤- یو څو زده کړونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۱- زده کړونکی دی. په بیلو بیلو ډلو بیل او لمانځه د په هکله دی خبری وشی. ۲- زده کړونکی دی د (ن) توری په چاپیریال دایره وباسی. ۳- هر یو زده کړونکی دی یوه یوه کلمه چه د (ن) په توری پیل کیږی ولیکی. ٤- د (۱۰۳) مخ تمرین باید زده کړونکی په کور کی ولیکی .

د (ړ) لوست

(۱۰٤ - ۱۰۵) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د(ړ) توری لوستل او لیکل، دکلمې په پیل، منځ او پای کې زده او وپیژنی .
۲- زده کړونکی باید د چارت او متن کلمې زده کړي.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د چارت کلمې پر تخته ولیکی او څو ځلی دې ولولی .	۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی ورته غوږ ونیسی .	۱- ښوونکی دی کلمې ولولی او زده کړونکی دی د (ړ) توری پر شاوخوا دایره را وکاږی.
۲- زده کړونکی دی هغه تکرار کړي.	۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړي.	۲- زده کړونکی دی کلمې ولیکی .
۳- ښوونکی دی د متن نوی کلمې پرتخته ولیکی او زده کړونکی دی هغه ولولی .	۳- زده کړونکی دی متن په پته خوله مطالعه کړي.	۳- پوښتنه دی وشی چې منه د انسان صحت ته څه ګټه رسوی .
٤- پوښتنه دی وشی چې د افغانستان په کوم ځای کې ښې مڼې پیداکیږی ؟	٤- یوځوزده کړونکی دی درس ولولی اوښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړي.	٤- د (۱۰۵) مخ تمرین دی زده کړونکی د کورنی وظیفی به شکل ولیکی .

د (و) لوست

(۱۰۶ - ۱۰۷) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د (و) توری تلفظ او لیکل، د کلمی په پیل، منځ او پای کی زده او وپیژنی.
۲- په کتاب کی د چارت او متن نوی کلمی دی زده کړونکی زده کړی.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
د کتاب د چارت کلمی دی ښوونکی پرتخته ولیکی او څو ځلی دی ولولی . ۲- زده کړونکی دی کلمی تکرار کړی . ۳- د متن نوی کلمی دی ښوونکی پر تخته ولیکی او زده کړونکی دی هغه ولولی . ٤- پوښتنه دی وشی چی زمونږ په هیواد کی څه شی زیات کرل کیږی؟	۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی ورته غوږ ونیسی . ۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی هغه په لوړ غږ تکرار کړی. ۳- په پټه خوله دی متن مطالعه کړی . ٤- یو څو زده کړونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۱- ښوونکی دی کلمی ولولی او زده کړونکی دی د (و) توری پر شاوخوا دایره وباسی . ۲- زده کړونکی دی کلمی ولیکی ۳- د (۱۰۷) مخ تمرین دی زده کړونکی په کورونو کی ولیکی .

د (هـ) لوست

(۱۰۸- ۱۰۹) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د (هـ) تورې تلفظ او لیکل، د کلمې په پیل، منځ اوپای کې زده او وپیژنی.
۲- د کتاب دچارت او متن نورې کلمې دې زده کړي.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په بهیر کې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی دکتاب دچارت کلمې پر تخته ولیکی او ودې لولی.	۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .	۱- ښوونکی دی زده کوونکی په بیلو بیلو ډلو بیل او لاندنی پوښتنې دی ځینې وشی :
۲- زده کوونکی دی کلمې تکرار کړي.	۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړي .	۲- دپسرلی هوا څنګه ده ؟
۳- د درس د متن کلمې دی پرتخته ولیکل شی او بیا دی ولوستل شی.	۳- زده کوونکی دی متن په پته خوله مطالعه کړي .	۳- په تازه هوا کی قدم وهل څنګه دی ؟
٤- زده کوونکی دی کلمې ولولی.	٤- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړي .	٤- د (۱۰۹) مخ تمرین باید د کورنی وظیفی په ډول ولیکل شی.
٥- د پسرلی په هکله دی ښوونکی پوښتنې وکړي .		

د (ی) لوست

(۱۱۰ - ۱۱۱) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید د (ی) تورې تلفظ او لیکل، د کلمې په پیل، منځ اوپای کې زده او وپیژنی.

۲ -دکتاب د چارت او متن نورې کلمې دې زده کړل شي.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکې	د لوست په بهیرکې	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی د کتاب د چارت کلمې پر تخته ولیکی او بیادی ولولی .	۱- ښوونکی دی د درس متن ولولی او زده کړونکی دی ورته غوږ ونیسی .	۱- زده کړونکی دی په بیلو بیلو ډلو بیل او لاندنی پوښتنې دی ځینې وشی .
۲- زده کړونکی دی تکرارکړی.	۲- ښوونکی دی درس ولولی او زده کړونکی دی په لوړ غږ هغه تکرار کړی.	۱- په لړۍ څښتن د کلك ایمان لرل څه نتیجه لري ؟
۳- د درس د متن کلمې دی ښوونکی پر تخته ولیکی او زده کړونکی دی ولولی .	۳- زده کړونکی دی متن په پټه خوله مطالعه کړی.	۲- مونږ په چا ایمان لرو ؟
	٤- پرو څو زده کړونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.	۳- د (ایمان اوقنوی) له کلمو څخه دی زده کړونکی جملې جوړې کړی .

شپږم فصل

د (۱۱۲ څخه تر ۱۱۵) مخ پورې

هدف

۱ - زده کوونکی باید له (یوه څخه تر لسو) پورې ولولی او زده ئی کړی.
۲- زده کوونکی دی اشکال وشمیری او دهغوی د شمیر لیکل دی زده کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړی چه له یوه څخه تر لسو پورې شمیرلی شی که نه ؟ ۲- د (۱۱۲) مخ اعداد دی ولولی او ودی لیکی. ۳- ښوونکی دی مختلف اعداد انتخاب کړی او زده کوونکی دی هغه په خپلو کتابچو کی ولیکی .	۱- زده کوونکی دی د (۱۱٤) مخ دایری و شمیری او تر صحیح عدد دی دایره چاپیره کړی . ۲- زده کوونکی دی د (۱۱۵) مخ منی وشمیری او د هریوه شمیر دی په چوکات کی ولیکی .	۱- له (۱ ـ ۱۰) پورې دی اعداد وشمیری ، او یو څو زده کوونکی دی هغه پرتخته ولیکی.

د عددونو لوستل اولیکل

(۱۱٦ - ۱۱۷) مخونه

هدف

۱- زده کړونکی باید له یوه څخه تر شلو پورې په عدد او تورو لیکل او لوستل زده کړي.

۲- زده کړونکی دی (۲۰-۳۰-٤۰-۱۰۰۰) اعداد په تور او عدد ولیکلی او ولوستلی شي.

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی ۱۰ ـ ۲۰ ۳۰ ـ ٤۰ ـ ۵۰ ـ ٦۰ ـ ۷۰ ـ ۸۰ ـ ۹۰ او ۱۰۰ په عدد او هم په تورو پر تخته ولیکی . ۲- زده کړونکی دی هم اعداد په دوارو اشکالو ولیکی او بیادی ولولی .	۱- زده کړونکی دی اعداد پنځه ځلی په تورو ولیکی . ۲- یو څو زده کړونکی دی اعداد په عدد او تورو پر تخته ولیکی . او ښوونکی دی د هغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړي.	۱- ښوونکی دی ، لس ، شل ، دیرش ، څلویښت ، پنځوس ، شپیته ، اویا ، اتیا ، نوی او سل عددونه په تورو د تختی پر مخ ولیکی او یو څو زده کړونکی دی هغه په عدد ولیکی .

د (ساعت لوستلو) لوست

د (۱۱۸ - څخه تر ۱۲۱) مخ پورې

هدف

۱- زده کړونکی دی د ساعت اعداد وپیژنی .

۲- د ساعت د عقرب یا ستنی حرکت دی وپیژنی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- ښوونکی دی د ساعت عقرب ، د دقیقه ګرد او د ساعت حرکت زده کړونکو ته وښیی .

۲- له زده کړونکو څخه دی پوښتنه وشی چه څو ډوله ساعت پیژنی .

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی په ساعت کی بیل بیل وختونه پر تخته رسم کړی او زده کړونکی دی د پنځو مختلفو وختونو ترمنځ واخلی .

داچه څو بجی او څو دقیقی دی د مثال په توګه :

ساعت ۰۰ : ۸ بجی دی ،

ساعت اته بجی دی .

تر لوست وروسته

۱- یو څو زده کړونکی دی د ساعت له مخی مختلف وختونه ووائی .

۲- زده کړونکی دی مختلف وختونه په عدد او هم په تورو ولیکی .

(۱۲۲) مخ

هدف

۱ - زده کوونکی باید ډیته ، ورځ ، میاشت او د اونۍ ورځې زده کړی .

۲- زده کوونکی باید ورځ ، میاشت او کال د کلیزې پر مخ وښودلی شی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی

۱- له پر ځو زده کوونکو څخه دی وغوښتل شی چه له یوه څخه تر لسو پورې پرتخته ولیکی اوبیائی ولولی پدی صورت کی له کلیزی څخه ګټه اخستل اسانه کیږی.

۲- ښوونکی دی داونۍ ورځې ولولی ، تلفظ دی کړی او زده کوونکی دی پنځه ځلی هغه په لوړ غږ تکرار کړی.

۳- ښوونکی دی میاشت او کال ولولی او زده کوونکی دی پنځه ځلی هغه تکرارکړی

د لوست په بهیر کی

۱- ښوونکی دی د اونۍ ورځې پر تخته ولیکی .

شنبه ، یکشنبه ، دوشنبه ، سه شنبه ، چارشنبه ، پنجشنه او جمعه

۲- زده کوونکی هغه په ترتیب ولولی .

تر لوست وروسته

۱- زده کوونکی دی په بیلو بیلو دلو بیل شی او هر زده کوونکی دی ورځ ، میاشت او کال چه ورسره مینه لری یا ئی در لوده ولیکی .

۲- هر زده کوونکی دی خپله لیکنه په لوړ غږ ولولی.

(۱۲۳) مخ

هدف

۱ - زده کړونکی باید وکولی شی چه د اوښی ورځنی ولوستلی شی .
۲- زده کړونکی باید جمل ولوستلی شی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی له زده کړونکو څخه غوښتنه وکړی چه د اوښی ورځنی ولیکی . ۲- زده کړونکی دی د اوښی د ورځو په پیژندنه او د جملو په لوستلو کی یو له بل سره مرسته وکړی .	۱- زده کړونکی دی د اوښی ورځنی په لوړ غږ ولولی . ۲- زده کړونکی دی په پټه خوله مطالعه وکړی . ۳- زده کړونکی دی د اوښی ورځنی ولولی او ښوونکی دی دهغوی ټیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۱- زده کړونکی دی داوښی ورځنی د کلیزی پر مخ وښیی .

یادونه : ښوونکی باید د زده کړونکو کار کنترول کړی او که مرستی ته اړتیاولری باید مرسته ور سره وشی .

(۱۲٤) مخ

هدف

۱- زده کړونکی دی په وړ کلمو د کتاب د (٦۰) مخ د جملو خالی ځایونه ډک کړی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- له زده کړونکو څخه دی پوښتنه وشی چه پرون ورځ نی خپل وخت څرنګه تیر کړی دی . ۲- زده کړونکی دی د کتاب (٦۰) مخ وښیی او ښوونکی دی ورته د ورځنی کار په هغو کلمو چه پوهیږی خالی ځایونه ډک کړی .	۱- زده کړونکی دی خپلی بشپړ شوی جملی په لوړ غږ ولولی ۲- زده کړونکی دی په پټه خوله جملی مطالعه کړی .	۱- ښوونکی دی د اونی ورځی گډی وډی، یعنی په نامرتبه توګه پر تخته ولیکی او زده کړونکی دی هغه مرتبی کړی، بیا دی ولولی، بیادی روانی چه په کومه ورځ څه کارکوی .

(۱۲۵) مخ

هدف

۱- زده کوونکی باید د یو بل پوښتنو ته ځواب ورکړای شی .

۲- زده کوونکی باید یوه صنفی محاوره ولیکی .

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- له زده کوونکو څخه دی غوښتنه وشی چه د کتاب د (۱۲۵) مخ دوه کسیزه محاوره ولولی .	۱- ښوونکی دی په عملی توګه دوه دوه زده کوونکی د الف او(ب) په ټومولو سره صنفی محاوره وکړی او په همدی توګه دی له ټولو زده کوونکو سره ادامه ورکړی .	۱- زده کوونکی دی یوه یوه صنفی محاوره ولیکی . ۲- زده کوونکی دی خپله لیکل شوی صنفی محاوره ولولی .

له (۱۲٦ مخ څخه تر ۱۲۸) مخ پوری

هدف

۱- زده کوونکی بایدد وخت، میاشتی او ورځی استعمال په خپل ورځنی ژوند کی زده کړی.

۲- زده کوونکی څو مره کولای شی چه د درس متن خپلو حافظو ته سپارلی شی؟

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- زده کوونکی دی دقصی متن ولولی .	۱- ښوونکی دی درس ولولی او زده کوونکی دی غوږ ونیسی .	۱- زده کوونکی دی پر بیلو بیلو دلو بیل شی او ښوونکی دی ورته روانی چه په قصه کی راغلی وختونه ، داونی ورځی او دقصی میاشت ولیکی .
۲- ښوونکی دی هغه کلمی چه زده کوونکی نی لوستلی نشی پر تخته ولیکی او بیادی ولولی.	۲- یو څو زده کوونکی دی درس ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی .	۲- څو زده کوونکی دی قصه په شفاهی توګه روانی .
۳- زده کوونکی دی کلمی تکرار کړی .		

(۱۲۸ - ۱۲۹) مخونه

هدف

۱ - زده کړونکی دی د کیسی پر مفهوم و پوهول شی.
۲- د کیسی پوښتنو ته دی ځواب ورکړای شی .

PROPERTY OF ACKU 4524

درسی فعالیتونه

د لوست نه مخکی	د لوست په بهیر کی	تر لوست وروسته
۱- ښوونکی دی څو کلمی د درس له متن څخه پر تخته ولیکی . ۲- زده کړونکی دی کلمی ولولی.	۱- ښوونکی دی قصه ولولی او زده کړونکی دی غوږ ونیسی. ۲- یو څو زده کړونکی دی قصه په لوړ غږ ولولی. ۳- زده کړونکی دی قصه په په پته خوله مطالعه کړی . ٤- یو څو زده کړونکی دی قصه ولولی او ښوونکی دی دهغوی نیمګړتیاوی اصلاح کړی.	۱- زده کړونکی دی د کتاب اخری پوښتنو ته ځواب ورکړی. هر یو زده کړونکی له اتو پوښتنو څخه باید پنځو پوښتنو ته په درسته توګه ځواب ورکړای شی او که ځواب نی ورنکړای شوای کتاب دی له سره تکرار شی.

A.W

ISLAMIC STATE OF AFGHANISTAN

Education Center For Afghanistan

Teacher's Guide

for

Learning to Read

and Write

No (1)

Authors : Abdul Wakil (Hanifi)

1993

Each DROP of Narcotics lead you to Death

دا پینو هر څاڅکی دیر ځوانان د مرګ سره مخامخ کوی

د USAID په مالی مرسته

طبع مطبعه سید جمال الدین افغانی (آی-آر-سی)